الله تعالى دې په هغه انسان رحم وکړي چې د پلورلو، اخېستلو او قرض غوښتلو په وخت کې اساني کوي

له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "الله تعالى دې په هغه انسان رحم وکړي چې د پلورلو، اخېستلو او قرض غوښتلو په وخت کې اساني کوي".
[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه چا لپاره د رحمت غوښتنه کړې ده څوک چې په پلور کې اساني او سخاوت کوي. هغه په پېرودونکي باندې په قيمت کې سختي نه کوي او د هغه سره ښه چلند کوي. اساني کوونکی، عزتمند او سخاوتمند؛ کله چې اخيستل کوي؛ چې نه وهي تر څو د توکي بيه راټيټه کړي. اساني کوونکی، عزتمند او سخي؛ کله چې د خپلو پورونو د ادا کولو غوښتنه کوي؛ په بې وزلو او مسکينانو باندې فشار نه راوړي، بلکې په نرم او مهربان سره تري غوښتنه کوي، او بې وزله خلکو ته مهلت ورکوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3716